ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي کچې د ۱۳۹۶ هـ - ل کال په پرتله زیاتوالی موندلی، که راټیټه شوې؟
ستاسو په ولایت کې د ښځو لپاره د ښوونې او روزنې وزارت له خوا د سواد زده کړې خدمتونه شتون لرې؟

څپرکی پینځم
پایلې او وړاندیزونه

## ښوونې او روزنې ته د نجونو لاسرسی

### سریزه

د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسی قانون د دریځلوېښتم اصل پر بنسټ، زده کړه د ټولو اتباعو حق ګڼل شوی او په دولتی ښوونیزو موسسو کې د لسانس تر کچې زده کړې په وړیا ډول د دولت له لوري تامین کیږي (۱۳۸۲، اساسی قانون). د همدې لپاره دولت مکلف دی چې، په ټول هېواد که د متوازن معارف د عمومیت په موخه، د اجباری متوسطو زده کړو د تامین لپاره ګټور پروګرامونه طرح او پلي کړي. د اساسی قانون دا اصل، د هېواد د ټولو اتباعو پرته له کلتوري، ژبني، توکمي، جنسیتي توپیر او بدني ځرنګوالي څخه، متوازن او با کیفیته ښوونیز او روزنیزو خدمتونو ته د لاسرسي اړتیا په ګوته کوي.له بلې خوا د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسي قانون دریځلوېښتمه مادې په ځانګړي ډول د ښځو د ښوونې او روزنې اړوند بحث کړی. د دې اصل پر بنسټ، دولت مکلف دی تر څو د ښوونې او روزنې د توازن او پرمختګ د رامنځته کولو په موخه ګټور پروګرامونه طرح او پلي کړي. همدار از د افغانستان دولت د نړیوالو تعهداتو له امله د ځینو نړیوالو معاهدو پر بنسټ مکلف دی لکه (د دریمې زریزې پراختیایي موخې) او (ښوونه او روزنه د ټولو لپاره.) د افغانستان دولت د دې دوو معاهدو پر بنسټ مکلف دی تر څو د هېواد د ټولو ماشومانو لپاره د لومړنیو زده کړو زمینه برابره کړي.

د تېرو څو کلونو په ترڅ کې په افغانستان کې د نجونو ښوونې او روزنې، اساسی قانون او نورو نړیوالو تړونونو ته چې افغانستان د د هغوی په پلي کولو مکلف ګڼل شوی، په پام سره، د اوسني سیاسی نظام څخه د مخکینیو کلونو په پرتله ډېرې لاسته راوړنې درلودلې. په همدې حال سره په افغانستان کې د نجونو ښوونه او روزنه د ځانګړو ستونزو سره مخامخ ده. په دې څېړنیز راپور کې، په افغانستان کې د نجونو د ښوونې او روزنې اوسنی حالت، د معارف د ښوونې او روزنې پالیسیو او پراختیایي پلانونو ته په پام سره د هغوی ستونزې او راتلونکی لیدلوری څېړل کیږي. دا بحث او څېړنه به په اوو ولایتونو کې د مصاحبې او پوښتنلیکونو د وېش له لارې سرته ورسول شي او وروسته به د یوه څېړنیز راپور له لارې خلکو ته وړاندې شي.

# لومړی څپرکی
# کلیات

## د مسئلې بیان

د ځمکې په سر د انسان د پیدایښت سره د ښوونې او روزنې پروسه پیل شوې او هیڅ داسې انساني ټولنه نشته چې په هغې کې ښوونې او روزنې اهمیت نه وي درلودلی.

په افغانستان کې له پخوا ښوونیز او روزنیزو بنسټونو شتون درلود او په تېره یوه لسیزه کې، د نړیوالې ټولنې مرستو او د رامنځته شوې نسبي سیاسي ټیکاو ته په پام سره، ښوونیزو او روزنیزو بنسټونو هم تر یوې کچې پرمختګ کړی. په افغانستان کې د ښوونې او روزنې پراختیا د دموکراسۍ له ارمانونو سره نږدې تړاو لري. که څه هم په افغانستان کې ښوونه او روزنه د دموکراسۍ له ارمانونو او د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ د ټولو اتباعو حق ګڼل کېږي، هیڅلکه د نجونو لپاره د ښوونې او روزنې له حق څخه ګټه اخیستنه له ۵۰٪ نه ده ډېره شوې.

په ښوونه او روزنه کې د نجونو د برخې اخیستنې اړوند کوم تحلیل او تجزیه چې د نړیوال بانک له لورې شوی دا په ډاګه کوي چې، د ولایاتو په کچه په ښوونځیو کې د نجونو او هلکانو د ګډون تر منځ ډېر توپیر موجود دی چې په ځینو سیمو لکه کندهار او پکتیا کې د نجونو د شمولیت کچه په راټیټېدو ده. او په وروستیو کلونو کې په ځانګړې توګه په کال ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کې، په ښوونځیو کې د نجونو د ګډون پر وړاندې خنډونه ډېر شوي له همدې امله، د نجونو د ګډون په کچه کې د پام وړ کموالی رامنځته شوی چې په ټولیزه توګه د ښوونې او روزنې د موخو د پلې کېدو خنډ شوی او له دې حق څخه ډېرې نجونې بې برخې شوې دي.

د دې څېړنې بنسټیزه موخه دا ده چې، د افغانستان اساسي قانون چې د ښوونې او روزنې حق یې پر ټولو اتباعو اجباري کړی او د افغانستان د ښوونې وزارت د جندر د ستراتیژۍ پر بنسټ ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي حق تامین شوی او که نه، او په دې اړه خنډونه څه دي. د دې څېړنې پایلې د خنډونو د پېژندلو او په ښوونه او روزنه کې د نجونو د لا ډېرې برخې اخیستنې لامل کیدای شي.

## د څېړنې موخې

د څېړنې بنسټیزه موخه له لاندې مسئلو څخه جوړېږي:

۱. ښوونې ته نجونو د نه لاسرسي د لاملونو پېژندنه؛

۲. په وروستیو کلونو کې په معارف کې د نجونو د ګډون د کموالي د لاملونو پیدا کول؛

۳. په افغانستان کې د جندر د ستراتیژۍ او نورو ښوونیزو او روزنیزو پلانونو او پراختیایي پروګرامونو د نه پلي کېدو څرنګوالی؛

## د څېړنې محدودیتونه

که څه هم په ټولو څېړنو کې محدودیتونه موجود وي خو په یاده څېړنه کې له یوې خوا په ځینو ولایتونو کې چې دا څېړنه ترسره شوې د خلکو د علاقې نه شتون او له بلې خوا د ښوونې وزارت د پراختیایي پروګرامونو اړوند د خلکو د معلوماتو کموالی او د نجونو د ښوونې او روزنې د حق اړوند د ځینې کلتوري ناوړه باورونو شتون د دې څېړنې له محدودیتونو څخه ګڼل کېږي.

## د څېړنې مېتود

د څېړنې موخو ته د رسیدو لپاره په ځانګړې توګه ښوونې او روزنې ته له لاسرسي څخه د خلکو په تېره بیا د ښځو د رضایت د کچې اندازه کول او سنجول همدا راز معارف ته د نجونو د لاسرسي اړوند د ښوونې د وزارت د خدمتونو او د خپلو چارو ترسره کولو په اړه د خلکو د رضایت کچه، د اړوند اسنادو او خپاره شوو حقوقي مسایلو مطالعه او تحلیل د دې څېړنې نه بېلېدونکې برخه ګڼل کېږي نو له همدې امله په دې څېړنه کې د اطلاعاتو د راټولولو په موخه له دوو میتودونو څخه چې د کمي او کیفي څېړنو له ترکیب څخه دي، ګټه اخیستل کېږي چې دا کتابخانه ای او میداني مېتودونه دي.

**الف) کتابخانه ای څېړنه:**

د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ ښوونې او روزنې ته لاسرسی د افغانستان د نجونو حق دی له همدې امله د با کیفیته او مساوي ښوونې او روزنې او د ټولو لپاره د زده کړې په موخه د ستراتیژیو او پلانونو موندل، د ۲۰۳۰ کال د ښوونې اړوند نوی لیدلوری، د څېړنیزو راپورونو او ښوونې ته د نجونو د لاسرسي اړوند نورو منابعو مطالعه او کتابخانه ای څېړنه د پوښتنلیکونو او لومړینو معلوماتو په تیارولو کې اړینه ګڼل

کېږي.

**ب) میداني څېړنه:**

ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي په اړه په کتابتونونو او اړوند ویب سایټونو کې د اساسي قانون او اړوندو ستراتیژیو، پلانونو او څېړنو له مطالعې او تحلیل څخه وروسته پکار ده چې په ټولنه کې ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي اړوند حقیقتونو او د شته پلانونو د پلي کولو و دا چې آیا نجونې له دې امکاناتو څخه برخمنې دي او که نه د میداني تحقیق له لارې د معلوماتو په راټولو اقدام وشي چې د یادي موخې لپاره پوښتنلیکونو وپشل شوي او تکمیل شوي دي. پوښتنلیکونه دوه ډوله سوالونه لري: بسته او خلاص.

- **د څېړنې آماري ټولنه:** د ولایتونو او یا هم د دې څېړنې د پوښښ لاندې ساحې پېژندنه د یاد تحقیق د ترسره کولو لپاره لومړی ګام وو چې د دې څېړنې د ترسره کولو زمینه یې مساعده کړه. په دې لاره کې د څېړنې د میدان په توګه اوه ولایتونه ( ننګرهار، پکتیا، کندوز، لغمان، کنړ او...) تعیین شول. د څېړنې د میدان تعیین د یادې څېړنې له موخې سره تړاو لري څکه په دې ولایتونو کې تر ټولو کمې نجونې ښوونځیو ته لاسرسی لري. د پوښښ لاندې ولایات له هغه مهمو ولایتونو څخه شمېرل کېږي چې له نورو ولایاتو سره ګاونډي دي او د دوی زونې ځانګړتیاوې د دې لامل شوي چې د دوی تر منځ ډېری مشترکې نقطې موجودې شي حتی یو ولایت له خپل ګاونډي ولایت څخه کولای شي چې استازیتوب وکړي.
- **د نموني جمعیت:** د نموني د جمعیت په اړه د څېړنې موخو ته په پام سره څېړنه د جنسیت پر بنسټ ترسره شوې. په دې مانا چې د څېړنې د موخو له امله دا اړینه وه چې هم ښځې او هم نارینه، ښوونې ته د نجونو د نه لاسرسي او په دې وروستیو کې په ښوونه او روزنه کې د نجونو د کچې ټیټوالي په اړه او همدا راز په افغانستان کې د ښوونې د ستراتیژۍ د نه پلي کېدو په اړه هم ښځینه او هم نارینه د نموني د جمعیت په توګه په نظر کې ونیول شي.
- **د اطلاعاتو د تحلیل کړنلاره:** د څېړنې د پایلو د تحلیل لپاره د هر ولایت د پوښتنلیکونو ځوابونه تحلیل او تجزیه کېږي او پایلې یې د څېړنې په متن کې ذکر کېږي.

## دویم څپرکی
## د نجونو د ښوونې او روزنې اوسنی وضعیت

په کال ۱۳۸۲ کې له یو میلیون څخه کمو نجونو او هلکانو ښوونې او روزنې ته لاسرسی درلود. د ښوونې وزارت د (۱۳۹۱) احصائیې پر بنسټ شاوخوا ۹،۵ میلیونه زده کوونکې د عمومي تعلیماتو په ښوونځیو کې شامل شوي. له دې سره سره او د نجونو د ښوونې او روزنې په لاره کې شته خنډونو ته په پام سره، د عمومي تعلیماتو د ښوونځیو له زده کوونکو څخه یوازې ۳۹ سلنه (۳،۵۴۹۰۰۰) یې نجونې دي. که څه هم په هېواد کې د ښوونځې د شرایطو سره سمو نجونو تعداد د ۶ میلیونو په شاوخوا کې دی. ۳۹٪ شاخص د دې ښکارندوی دی چې ښوونې او روزنې ته د نجونو او هلکانو د لاسرسي تر منځ ډېر واټن موجود دی. یادو احصائیو ته په پام سره، ۴۱ سلنه یعنې د ۲،۵ میلونو په شاوخوا کې نجونې ښوونې او روزنې ته لاسرسی نه لري.

لاندې جدول، د عمومي تعلیماتو خدمتونو ته د هلکانو په پرتله د نجونو د لاسرسي کچه په ګوته کوي

| د ښوونیزو دورو ټولېزه | ابتدائیه | منځنی | ثانویه |
|---|---|---|---|
| نجونې ۶۶٪ | ۴۰٪ | ۲۶٪ | ۵۳٪ |
| هلکان ۹۲٪ | ۷۰٪ | ۴۵٪ | ۸۰٪ |
| په ټولیزه توګه ۷۹٪ | ۵۵٪ | ۳۶٪ | ۶۷٪ |
| د جنسیتي توازن ځانګړتیا ۰،۶۶ | ۰،۷۱ | ۰،۵۷ | ۰،۵۷ |
| سرچینه: معارف وزارت، د معارف ملي ستراتیژیک پلان مسوده، ۱۳۹۲ | | | |

په پورتني جدول کې د جنسیتي توازن شاخص دا ښکاروي چې ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي کچه په تدریج سره له ابتدایي څخه تر متوسطې او ثانوي دورې محدود کېږي. په داسې حال کې چې په ابتدایي دوره کې د جنسیتي توازن شاخص ۰،۷۱ دی په متوسطه او ثانوي دوره کې دا شاخص ۰،۵۷ ته ټیټ شوی. برسېره پر دې د عمومي تعلیماتو له نظام څخه د فارغو نجونو شمېر ۶۴۰۰۰ تنو ته رسېږي چې دا شمېره د عمومي تعلیماتو د ۱۲ ټولګي د فارغانو شاوخوا ۳۴ سلنه تشکیلوي. په ښوونځیو کې د کمو نجونو شتون په دې مانا دی چې لوړو زده کړو او د ښوونکو د روزنې پروګرامونو ته د نجونو لاسرسی لږ دی. سره له دې د عمومي تعلیماتو په زده کوونکو او فارغانو کې د کمو نجونو شتون، په ملي پراختیایي پروژو کې د دوی د رول او ټولنیز رول د کموالي په مانا دی.

**۱. د نجونو د ښوونې او روزنې په وړاندې ننګونې خنډونه**

د هېواد په کچه په ملي پرېکړو کې د نجونو د ښوونې او روزنې د ځواکمنتیا لپاره، با کیفیته ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي د ښه والي په اړه اراده موجوده ده. او په دې اړه د ښوونې وزارت او د هغې د نورو ملي او نړیوالو ملګرو له لورې ډېر زیار ایستل شوی. چې د کوښښونو ډېرې لاسته راوړنې درلودلې. سره له دې د نجونو ښوونه او روزنه له ډېرو خنډونو سره مخامخ ده چې هر یو یې د نجونو د ښوونې او روزنې د لارې اساسي خنډ کېدای شي. چې دا به د دولت د ښوونې او روزنې خدمات له ناکامۍ او یا هم لږ تر لږه له ستونزو سره مخامخ کړي. په لنډ ډول دا خنډونه په لاندې توګه تحلیل کېږي.

**امنیت:** د نجونو د ښوونې او روزنې له ننګونو شرطونو څخه دی. پر ته له امنیت څخه ډېرې کورنۍ دې ته چمتو نه دي چې خپلې نجونې ښوونځي ته واستوي. د نجونو د ښوونې او روزنې د امنیت موخه، ټولنیز امنیت دی. ډېرې ښوونځي د نجونو د شمولیت اړوند لازم امکانات نه لري. د ودانیو او حفاظتي دېوالونو نه شتون، په تېره بیا په کلیو کې د نجونو له کور څخه تر ښوونځي د اوږد واټن موجودیت له اساسي خنډونو څخه شمېرل کېږي. له همدې امله ډېرې کورنۍ چمتو نه دي چې خپلې نجونې داسې ښوونځیو ته چې ودانۍ او حفاظتي دېوالونه نه لري، واستوي.

سره له دې په یو شمېر ولایتونو او ولسوالیو کې د عمومي امنیت نه شتون د دې لامل شوی چې ډېرې کورنۍ د عمومي تعلیماتو په ښوونځیو کې د نجونو د ګډون خنډ شي. په هېواد کې د قانون حاکمیت ډېر کمزوری دی. ډېرې زورواکو او هغه کسانو چې له قانون څخه یې سرغړونه کړې، د قانون له منګولو څخه تښتېدلي دي. داسې حالت د نجونو او د هغوی د کورنیو په لاره کې د نه حل کېدونکو امنیتي ستونزو لامل شوی، چې دا موضوع ښوونې او روزنې ته نجونو لاسرسي په یوه اساسي ستونزه بدل کړی.

**جغرافیایي وضعیت**

دې موضوع ته په پام سره چې افغانستان یو غرنی هېواد دی ډېرې کلي یو له بل څخه په ډېر واټن واقع شوي دي او له کلیو څخه د ښوونځیو واټن ډېر دی. له یوې خوا په کلیو کې د ټګ راټګ د وسایلو امکانات نشته چې له کور څخه تر ښوونځي د واټن طی کول د نجونو لپاره له ډېرو ګواښونو سره مخامخ کوي او له بلې خوا، د کمزوري امنیت تر څنګ له کورونو څخه د ښوونځیو لیرېوالی په ښوونځیو کې ګډون ستونزمن کړی.

**اقتصادي وضعیت**

افغانستان یو فقیر هېواد دی چې د هېواد شاوخوا ۳۶ سلنه وګړي د خپلو لومړنیو او بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو ځواک نه لري. په کال ۱۳۹۱ کې د سړي سر عاید شاوخوا ۶۴۰ امریکایي ډالره اټکل شوی.

د کورنیو فقر د دې لامل شوی چې د خپلو ماشومانو د ښوونې او روزنې لګښتونه تامین نشي کړای چې په پایله کې یې ډېرې نجونې ښوونې او روزنې ته له لاسرسي څخه بې برخې شوې دي. له بل اړخه دا چې افغانستان تر ډېره یو سنتي هېواد دی نو ډېرې کورنۍ په زامنو پانګونه غوره بولي چې دا موضوع ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسی امکان لږ کړی.

**کلتوري وضعیت**

افغانستان یو سنتي (لرغونی) هېواد او د محدود کوونکي کلتور تابع دی. زمونږ کلتوری اصول په تېره بیا د نجونو او ښځو لپاره ډېر محدودیتونه رامنځته کړي. لومړی د ښځو او نجونو لپاره د دې کلتوري محدودیتونو سرچینه د اخلاقي او فقهي فرمانونو څخه ځانګړي پوهه (برداشت) ده. داسې پوهه چې ښځې او نجونې یې د کور د ننه ایسارې کړې او د دوی ټولنیز ګډون (مشارکت) او هغه فعالیتونه چې په ټولنه کې د دوی د شتون لپاره اړین دي، محدود کوي. له بل اړخه د یو سنتي هېواد په توګه د افغانستان کلتوري اصول، په ټولنه کې د ښځو په حضور ډېر محدودیتونه تپلي.

د کورنیو له نارینه وو څخه د ښځو مطلق اطاعت او په هېواد کې د ښځو پر وړاندې جدي تعصب د دې لامل شوی چې په هېواد کې ښځې په ټولنیزو برخو کې د ګډون په موخه له لږو امکاناتو څخه برخمنې شي.

ښوونه او روزنه د ښځو او نجونو د ټولنیز ګډون یوه اساسي برخه ده او په عین حال کې په ټولنیزو برخو کې د دوی د ګډون لپاره آسانتیاوې رامنځته کوي. له همدې امله په هېواد کې ډېری کورنیو په تېره بیا په متوسطه او ثانوي دورو کې د نجونو حضور محدود کړی.

**د ښځینه ښوونکو کموالی**

برسېره په یاد شوو لاملونو، د ښځینه ښوونکو کموالی او یا هم په ډېری ولسوالیو کې یې نه شتون، په ښوونه او روزنه کې د نجونو د نه ګډون یو مهم لامل دی. په ښوونه او روزنه کې په تېره بیا په ثانوي دوره کې نه ګډون د ۱۲ ټولګي څخه د نجونو فارغانو د کموالي لامل ګرځي چې په پایله کې یې ښځینه ښوونکو ته د نجونو لاسرسی کمېږي. ځکه چې یوازې د ۱۲ ټولګي او یا له هغه څخه پورته فارغین کولای شي چې د ښوونکي په توګه وګمارل شي او د ښوونکو د روزنې په دورو کې ګډون وکړي. د ښوونې وزارت او د هغې د کورنیو او بهرنیو مرستندویانو چې د نجونو په ښوونه او روزنه کې یې فعاله ونډه درلوده د هڅو سره سره، د هېواد په ډېری ولایتونو او ولسوالیو کې دا ستونزه په ښوونځیو کې د نجونو د نه ګډون یو بنسټیز لامل دی چې لا تر اوسه نه دی حل شوی.

## دریم څپرکی

## د نجونو د ښوونې او روزنې راتلونکې ته کتنه

»د ټولو لپاره د ښوونې او روزنې د موخو په اساس تر کال ۱۳۹۹ پورې به د افغانستان ټول هلکان او نجونې وکولای شي چې په ابتدائیه دوره کې ګډون او هغه تکمیل کړي» دا د افغانستان لپاره د دریمې زریزې د پراختیایي یوه موخه ده. د ښوونې وزارت په خپلو ټولو پراختیایي پلانونو کې دا اصل په نظر کې نیولی او د ښوونې او روزنې اساسي پالیسي یې د افغانستان لپاره «د دریمې زریزې پراختیایي موخې» او همدا راز «د ټولو لپاره د ښوونې او روزنې موخې» پر بنسټ تنظیم کړې (د ښوونې وزارت ۱۳۹۲). په دې اساس د ښوونې وزارت چې په هېواد کې د عمومي تعلیماتو په کچه د ښوونې او روزنې د مدیریت اصلي پلې کوونکی دی، د خپلو ملي او نړیوالو ملګرو په مرسته کوښښ کړی چې ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي زمینه مساعده او هغې ته یې لاسرسي لا ښه کړي.

**د ښوونې او روزنې د پراختیا دریم پلان**

د ښوونې او روزنې د پراختیا دریم پلان ښوونې او روزنې ته د نجونو په لاسرسي کې د آسانتیاوو رامنځته کولو لپاره لاندې موخې ټاکلې دي:

- ★ د عمومي تعلیماتو د زده کوونکو شمېر ۱۴،۸ میلیونو ته لوړول ۶،۹ میلیونه نجونې او ۷،۹ میلیونه هلکان)
- ★ د جنسیتي برابرۍ د نسبت په ابتدایي دورې کې ۱ ته، په متوسطه کې ۰،۸ ته او په ثانوي دوره کې ۰،۷ ته لوړول.

له بله اړخه، ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي د ستونزو د کمولو او حل لپاره د ښوونې وزارت د ښوونې او روزنې په دریم پراختیایي پلان کې لاندې ستراتیژۍ تدوین شوې دي:

- د نجونو د ښوونې او روزنې د اهمیت او فرضیت په اړه د مذهبي، قومي او محلي مشرانو لخوا د عامه پوهاوي د کمپاینونو په لاره اچول؛
- د لا ډېرو ښځینه ښوونکو او اداري کارکوونکو ګمارل په ځانګړي ډول په کلیوالو سیمو کې؛
- د هغه ښځینه ښوونکو لپاره چې له ښاري ښوونځیو څخه د کلیو ښوونځیو ته لېږل کېږي د تشویقي معاش او ځمکې ورکول؛ او
- د نجونو د ښوونځیو لپاره د احاطې، اوبو او ورته نورو امکاناتو برابرول (د ښوونې وزارت، ۱۳۹۲).

د پورته ذکر شوو ستراتیژیو سربېره چې په ښوونځیو کې د نجونو د شمولیت په ډېروالي کې په مستقیمه توګه اغېزه لري، په دریم ستراتیژیک پلان کې ځینې نورې ستراتیژۍ تعیین شوي چې د عمومي تعلیماتو په ښوونځیو کې د نجونو د ګډون په ښه والي کې مرسته کوي. دا ستراتیژۍ په لاندې ډول دي:

- ★ په لیرې پرتو سیمو کې د محلي ښوونځیو او اړونده الحاقیه شعبو جوړول؛
- ★ فقیرو زده کوونکو ته د غذا او قرطاسیې وېشل؛

- د ښوونځيو د شوراګانو ګړندي کول؛
- د ښوونځيو د ودانيو په جوړولو کې د خلکو د ونډې ډېرول؛
- ډېر پام کول؛ په دارلمعلیمینو کې د ښوونکو د روزنو په اصلي پروګرامونو کې ښځینه ښوونکو ته
- د ښوونکو د روزنیزو مرکزونو پراختيا او حمايت؛
- هغه ښوونکو ته چې د ۱۲ ټولګي څخه لږ زده کړې کړې تسریعی ښوونه ورکول؛
- د معارف د اداري غير مرکزي کول په ځانګړي ډول د پلان جوړوني په برخه کې چې د ولايتونو او ولسواليو ستونزې به په نظر کې ونيسي؛

او په پای کې د اداري فساد پر وړاندې مبارزه. د پورته یاد شوو ستراتیژیو څخه هر یوه په غیر مستقیمه توګه په ښوونځیو کې د نجونو د شمولیت په ډېروالي اغېزه لرلای شي.

یاد شوو پالیسیو او ستراتیژیو ته په پام سره د ښووني وزارت د ۱۳۹۳ نه تر ۱۳۹۹ کلونو پورې په خپل پراختیایي پلان کې، د عمومي تعلیماتو د زده کوونکو د شمېر ۱۴،۸ میلیونو ته لوړول (۶،۹ میلیونه نجوني او ۷،۹ میلیونه هلکان) او د جنسیتي برابری د نسبت په ابتدائیه کې ۱ ته، په متوسطه کې ۰،۸ ته او په ثانوي دوره کې ۰،۷ ته لوړولو موخې ټاکلي دي (د ښووني وزارت ۱۳۹۲).

نو داسي پایلي ته رسېږو چې، ښووني او روزني ته د نجونو د لاسرسي د ښه والي په اړه د اساسي قانون اصولو او د هېواد په کچه لویو پالیسیو ته په کتو سره د نجونو د ښووني او روزني راتلونکي هیله ښېونکي او روښانه ښکاري. د ښووني وزارت او د هغې ملي او نړیوالو ملګرو ښووني او روزني ته د نجونو د لاسرسي ښه والی خپله موخه ګڼلې ده. ځکه چې په لومړي ګام کې د هېواد ملي او متوازنه پراختیا په ملي او ځواکمن انساني ځواک پورې اړه لري. دا دنده هغه وخت سرته رسېږي چې په لومړي ګام کې د ټولني د نیمایي وګړو په توګه ښځې د هېواد په پراختیا کې اساسي ونډه ولري چې دا امر په ښوونه پورې تړلی دی. دوهم دا چې تجربو ښودلې ده چې یوازې هغه کورنۍ چې زده کړې لري په ځانګړي ډول مینې د خپلو ماشومانو لپاره په ځانګړي ډول د نجونو لپاره د زده کړو په اهمیت پوه شوي او په ښوونه او روزنه کې د هغوی د ګډون لپاره زمینه برابروي. اما په راتلونکو کلونو کې د هېواد بودیجوي محدودیتونو ته په کتو سره، د بودیجې د لګولو د ظرفیت کموالی او د ښووني او روزني د پراختیایي پلانونو پلی کول او د ناامنی له امله په هېواد کې د امنیتي ستونزو له کبله آیا د نجونو ښوونه او روزنه به د ښووني او روزني په پراختیایي پلانونو کې ټاکل شوو موخو ته ورسېږي او که نه؟ آیا راتلونکي کلونه به د نجونو د ښووني او روزني د څرنګوالي د ارزوني په اړه او ښې ښووني او روزني ته د هغوی د لاسرسي په اړه ښه شواهد او دقیق معلومات ورکړای شي؟

## څلورم څپرکی
## د میداني مطالعاتو پر بنسټ د څېړنې پایلې

د څېړنې پایلې د افغانستان په اتو ولایتونو کې د ۱۳۹۶ ملي ستراتیژۍ د پلان د پلي کېدو پر کچه کولو (پیمایش) ولاړې دي چې هلته پوښتنلیکونه وېشل شوي دي. په دې اړه په هر ولایت کې سلو (۱۰۰) پوښتنلیکونو ته د جنسیت په تفکیک سره ځواب ویل شوی چې د ځواب ورکوونکو له ۶۰ سلنې څخه ډېرې یې ښځې تشکیلوي. د سن له اړخه ځواب ورکوونکي له ۱۸ کلونو تر ۴۰ پورې عمر لرې او ځواب ورکوونکي ټول د سواد خاوندان وو.
له وېشل شوو پوښتنلیکونو څخه مو یوازې په کندهار ولایت کې له ۱۰۰ پوښتنلیکونو څخه ۱۷ پوښتنلیکونه بېرته لاسته راوړل شوای چې د څېړنې د معیارونو پر بنسټ د محاسبې وړ نه دي او د پاتې اوو ولایتونو څخه مو وکولای شوای چې وروسته له ځواب ورکولو څخه پوښتنلیکونه بېرته تر لاسه کړو چې د ځواب ورکوونکو او د تر لاسه شوو پوښتنلیکونو ټولې ځانګړتیاوې په لاندې جدول کې لیدلای شئ.

### د ځواب ورکوونکو ځانګړتیاوې

| شمیره | ولایت | د ځواب ورکوونکو شمېر | جنس | | عمر | | د زده کړې کچه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | ښځینه | 25-18 | 45-30 | بکلوریا | فوق بکلوریا | لیسانس |
| 1 | هرات | 90 | 36 | 54 | 75 | 15 | 33 | 35 | 22 |
| 2 | کندز | 84 | 44 | 40 | 70 | 14 | 42 | 26 | 16 |
| 3 | بلخ | 97 | 33 | 64 | 72 | 25 | 22 | 28 | 47 |
| 4 | بامیان | 100 | 48 | 52 | 78 | 22 | 21 | 31 | 48 |
| 5 | ننګرهار | 92 | 72 | 20 | 67 | 25 | 26 | 24 | 42 |
| 6 | لغمان | 70 | 43 | 27 | 56 | 14 | 33 | 17 | 20 |
| 7 | پکتیا | 85 | 75 | 10 | 55 | 30 | 38 | 25 | 22 |
| 8 | کندهار | 17 | 2 | 15 | 16 | 1 | 13 | 0 | 14 |
| مجموعه | | 635 | 353 | 282 | 489 | 146 | 228 | 186 | 231 |
| ټوله مجموعه | | 635 | | | | | | | |

**(1) ګراف**

**ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي خنډ جوړوونکي لاملونه**

ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي د خنډ جوړوونکو لاملونو د پیدا کولو په موخه په ټولو پوښتنلیکونو کې ورته پوښتنې موجودې وې. د سوال موخه دا وه چې آیا دا لاملونه په بېلابېلو ولایتونو کې یو شان وو که مختلف. د افغانســــتان په اوو ولایتونو کې د دې سوال په ځواب کې روښانه شوه چې خنډ جوړوونکي لاملونه مختلف وو او په لاندې توګه دي:

- **ناامني:** د څېړنې د میدان په اوو ولایتونو کې د ناامنۍ په اړه داسې ویل شوي چې ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي د خنډ جوړوونکی لامل ناامني ده. چې د افغانستان په اوو ولایتونو کې د ناامنۍ سطح او ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي په خنډونو یې اغېزه توپیر لري. چې دا توپیر په ۲ شمېره شکل کې لیدلای شی.
- **بېوزلی:** بېوزلي یې ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي د دوهم خنډ جوړوونکو لامل په توګه په نښه کړی. ښوونې او روزنې ته د خنډ جوړوونکي لامل په توګه د فقر اغېزه کولای شي چې د کورنۍ په ټولو غړو اغېزه ولري ولې ځینې فقیرې کورنۍ د خپلو لونو د ښوونې او روزنې د حق په اړه کاملاً بې پروا وې.(۲ نمبر جدول)
- **حاکم منفي رواجونه (کلتور):** د حاکمو منفي رواجونو حاکمیت، موجودیت او دوام په ډېری ولایتونو په ځانګړي ډول د دې څېړنې د میدان په توګه غوره شوو ولایتونو کې ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي د خنډ جوړوونکو لامل په توګه په لږ توپیر سره اوس هم موجود دی. چې د څېړنې په خلاصه کې دا توپیر روښانه شوی. (۲ نمبر جدول)
- **له وخته مخکې ودونه:** د ټولو ولایتونو په ځوابونو کې ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي د خنډ جوړوونکو لامل په توګه له وخته مخکې واده مو مشاهده کړو او له دې لامل څخه د نجونو اغېزمن کېدل په بېلابېلو ولایتونو کې توپیر لري ولې لا هم د یوه ځواکمن لامل په توګه موجود دی. (۲ نمبر جدول)
- **جنسي ځورونې:** په ځینې ولایتونو کې یې دا لامل ښوونې او روزنې ته د نجونو په نه لاسرسي کې مهم ګڼلی ۲ نمبر ګراف

**تر ارزونې وروسته ښوونې او روزنې ته د نجونو د نه لاسرسي لاملونه:**




**(۲) ګراف**

**۱. ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي په اړه د ښوونې وزارت د وړاندې شوو خدمتونو څخه رضایت**

دا د څېړنې دوهمه پوښتنه وه. هغه مهم شی مو چې د دې پوښتنې له ځواب څخه تر لاسه کړ دا وو چې د ښوونې وزارت لخوا د هغه ځانګړو خدمتونو په اړه چې نجونو ته وړاندې کېدل، اطلاع په ټیټه سطح وه او خلک له دې خدمتونو څخه لږ خبر وو چې د دې څېړنې په دوهم څېرکي کې مو د هغې یادونه کړې. (دویم څېرکي: د نجونو د ښــوونې او روزنې راتلونکې ته کتنه د ښــوونې او روزنې د دریم پر اختیایي پلان اړوند بحث)

په دې هېواد کې د جنســیتي برابرۍ د پلانونو او پروګرامونو او ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي په اړه اطلاع ورکونه د ټولو اتباعو قانوني حق دی او په مســتقیمه توګه په ښوونځیو کې د نجونو په ډېروالي اغېز لري. دا چې د معارف له خدمتونو څخه په کومه کچه رضایت موجود دی. تاسې په (۳ شمېره جدول) کې په دې اړه له تحلیل څخه وروسته کوم ځوابونه چې چمتو شوي، لیدلای شئ.




**(۳) ګراف**

**د څېړنې دریمه پوښتنه په افغانستان کې د ښوونې او روزنې په اړوند د نړیوالو همکاریو په اړه وه چې د نجونو په اړه به دا همکاري څنګه وي؟**

بیا هم ډېری ولایتونو د دې همکارۍ په اړه خبر نه وو په تېره بیا نجونو ته د دې خدمتونو د وړاندې کولو په هکله، په داســـــې حال کې چې له کلونو راهیســې د افغانســتان دولت د ښوونې وزارات ته په دې اړه نړیوالې همکارۍ لاسته راوړې د دې همکاریو په هکله اطلاع د ښوونې او روزنې اهمیت لا هم ډېروي او خلک ښوونځیو ته د خپلو ماشومانو شاملولو علاقه پیدا کوي. په دې اړه د خلکو نه خبرېدل او بېلابېل لاملونه د دې لامل شوي چې دا خدمتونه په مختلفو ولایتونو کې په متوازنه توګه وړاندې نشي. لکه څنګه چې په ۴ نمبر جدول کې یې تاسې لیدلای شئ.

**ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي په اړه له نړیوالو همکاریو څخه خبرتیا**




**(۴) ګراف**

**د دې څېړنيز راپور څلورمه پوښتنه دا وه چې آيا ستاسو په ولايتونو او ولســــوالیو کې د هغو نجونو لپاره چې له ښوونځي څخه پاتې دي تولنيزه ښوونه او روزنه شتون لري او که نه؟**

دې پوښتنې ته له ورکړل شوو ځوابونو پوه شـوو چې د دې ډول خدمتونو په اړه معلومات او حتی د دې ډول خدمتونو وړاندي کول هم تر ځينې ولايتونو پورې محدود دي. دا خدمتونه د ټولو لپاره نه دي او د دې خدمتونو په دې ډول وړاندې کول د دې لامل شـوي چې نامتوازنه ښـوونه په ځانګړي ډول د دې څېړنې د څېړنيز ميدان په توګه غوره شوو ولايتونو کې رامنځته شي.

حال دا چې په افغانستان کې د ټولنيزې ښوونې او روزنې لپاره ځانګړي پروګرامونه موجود دي چې په دويم څپرکي کې يې يادونه شوې. ولې ډېرى وګړي له هغې څخه يا خبر نه دي او يا هم دوى ته د اهميت وړ نه دي. په څلورم نمره جدول کې مو د ورکړل شوو ځوابونو له تحليل څخه وروسته دا موضوع تر لاسه کړه.

**ستاسو په سيمه کې هغو نجونو ته د ټولنيزو ښوونو آسانتياوې شتون لري، چې ښوونځي ته له تلو بې برخې دي؟**




**(۴) گراف**

**د نجونو په ښوونځيو کې درسي کتابونو ته له لاسرسي څخه رضايت شته او که نه؟**

د پراختيا په حالت کې د ښوونې او روزنې يوه موخه هم په ښـوونځيو کې د نورو امکاناتو تر څنګ د درسـي توکو تيارول دي. درسـي کتابونه د دې امکاناتو يوه بېلګه ده، چې درسي کتابونو ته لاسرسي په اوو ولايتونو کې چې د دې څېړنې ميدان تشـــــکيلوي، ډېر توپير درلود او ځواب ورکوونکو د درسي کتابونو له نه شتون څخه شکايت لرلو. چې وروسته له تحليل څخه مو د څېړنې پايلې په يوه جدول کې په لاندې توګه تحليل کړي: ۵ نمبر ګراف

**آيا د نجونو په ښوونځيو کې پوره درسي کتابونه شتون لري او که نه؟**




**(5) گراف**

د دې څېړنيز راپور ځلورمه پوښتنه دا وه چې آيا ستاسو په ولايتونو او ولسـواليو کې د هغو نجونو لپاره چې له ښوونځي څخه پاتې دي تولنيزه ښوونه او روزنه شتون لري او که نه؟

دې پوښتنې ته له ورکړل شوو ځوابونو پوه شـوو چې د دې ډول خدمتونو په اړه معلومات او حتی د دې ډول خدمتونو وړاندې کول هم تر ځينې ولايتونو پورې محدود دي. دا خدمتونه د ټولو لپاره نه دي او د دې خدمتونو په دې ډول وړاندې کول د دې لامل شـوي چې نامتوازنه ښـوونه په ځانګړي ډول د دې څېړنې د څېړنيز ميدان په توګه غوره شوو ولايتونو کې رامنځته شي.

حال دا چې په افغانسـتان کې د ټولنيزې ښوونې او روزنې لپاره ځانګړي پروګرامونه موجود دي چې په دويم ځپرکي کې يې يادونه شوې. ولې ډېرى وګړي له هغې څخه يا خبر نه دي او يا هم دوى ته د اهميت وړ نه دي. په ځلورم نمره جدول کې مو د ورکړل شوو ځوابونو له تحليل څخه وروسته دا موضوع تر لاسه کړه.

ستاسو په سيمه کې هغو نجونو ته د ټولنيزو ښوونو آسانتياوې شتون لري، چې ښوونځي ته له تلو بې برخې دي؟




**(6) ګراف**

**آيا په خپلو ولايتونو کې د سواد د زده کړو له خدمتونو څخه راضي ياست؟**

په ځينې ولايتونو کې دا ډول خدمتونه نشته نو له دې امله ځواب ورکوونکي په خپلو سيمو کې د ښځو لپاره د سواد د زده کړې له خدمتونو څخه راضي نه وو، ولې په ځينې نورو ولايتونو کې دا ډول رضايت موجود وو چې له دې څخه داسې ښـکاري چې دا ډول خدمتونه په متوازن ډول نه دي مديريت شوي. (۶ شمېره جدول ليدلای شئ.)

**په خپل اړوند ولايت کې د ښځو لپاره د سواد زده کړې له خدمتونو راضي ياست؟**




**(7) ګراف**

## پینځم څپرکی
## پالیسي او وړاندیزونه

دا څېړنه ښوونې او روزنې او همدا راز د ټولنې پر بنسټ د ښوونې او روزنې پروګرامونو (CBEs) ته چې په افغانستان کې ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي یوازینۍ لاره ګڼل کېږي، د نجونو د نه لاسرسي د لاملونو د پیدا کولو په موخه ترسره شوې وه. په نږدې سیمو کې د ټولنې پر بنسټ د ښوونې او روزنې د مرکزونو پرانیستل، ښوونې او روزنې ته د هغه نجونو چې، د بېلابېلو لاملونو له امله له ښوونځي څخه پاتې دي، د لاسرسي په مانا ده چې له داسې پروګرامونو څخه پوهاوی په ټېټه کچه دی. ځکه چې څېړنو ښودلې ده چې د ټولنې پر بنسټ د ښوونې او روزنې پروګرامونه په ځانګړې ډول د نجونو د نوم لیکنې او آزموینې د کچې په لوړولو کې اغېزمن وو. د ټولنې پر بنسټ د ښوونې او روزنې پروګرامونه کولای شي چې د نجونو د ښوونې او روزنې د لارې په ځانګړې ډول د ښوونځي لیرې واټن، د ښوونځي د لارې ناامني او له ټولو مهمه د ښځینه ښوونکو نه شتون غوندې ډېرې سیستماتیک خنډونو په له منځه وړلو کې اغېزمنه ستراتیژي وي. د ځینې ګزارشونو په بنسټ سره له دې چې د ټولنې پر بنسټ د ښوونې او روزنې پروګرامونه په لویه کچه د غیر دولتي موسسو لخوا پلې او د نړیوالو مرستندویه موسسو لخوا تمویل شوي، د دولت او تمویل کوونکو بنسټونو لخوا د یوې اوږدمهاله ستراتیژۍ نه شتون د دې لامل شوی چې، د ټولنې پر بنسټ د ښوونې او روزنې پروګرامونو په پلې کول سره د نجونو په سواد کې د پام وړ بدلون رامنځته نشي. د دې څېړنې پایلې هم زمونږ لپاره دا موضوع روښانه کړه چې، د جنډر د ستراتیژیو پلې کول، متوازنه ښوونه او روزنه یعني ښوونې او روزنې ته لاسرسی د ټولو اتباعو د حق په توګه، د ښځو او نارینه وو لپاره یو شان نه دی برابر شوی.

که څه هم د افغانستان د زده کړې نظام کوښښ کوي تر څو د هغه زده کوونکو اړتیاوې چې ناکام دي، رفع کړي ولې د نورو مراجعو له اړخه ښوونې او روزنې ته د ماشومانو نجونو د لاسرسي لپاره ډېر لږ حمایت موجود دی.

معمولاً دایمي دولتي ښوونځي د داسې یو ظرفیت چې د نجونو ماشومانو د ښوونې او روزنې او یا هم د دوی د پراخې تربیې لپاره زمینه مساعده کړي، نه دي او دا دول ښوونځي ډېر لږ دي.

لا هم ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي د لارې خنډ جوړونکي لاملونه پر خپل ځای دي،چې دا موضوع د دې څېړنې له پایلو څخه هم ده.

د افغانستان د دولت له لویو پروګرامونو څخه یو هم د ټولنیزو زده کړو خدمتونه دي چې په دې اړه د خلکو پوهاوی ډېر لږ دی.

د ښځو لپاره د سواد د زده کړو له خدمتونو څخه رضایت موجود نه وو او ښوونې او روزنې ته د لاسرسي په لاره کې د نړیوالو مرستو په اړه د خلکو پوهاوی په ډېره ټېټه کچه دی. حال دا چې په وروستیو کلونو کې افغانستان د نړیوالو مرستو یو لوی ترلاسه کوونکی هېواد دی چې یوازې له ۲ څخه تر ۶ سلنه بهرنی پراختیایي مرستې د ښوونې او روزنې سکتور ته ځانګړې شوې. اداري خنډونه، ټیټ ظرفیت، د فساد او ناامنی موجودیت د دې لامل شوی چې حتی دا مرستې هم تر ډېره د افغانستان دولت له لورې و نه لګول شي. لکه څنګه چې دا مرستې د دولت ناخالصه ملي تولیداتو او مجموعي ملي بودیجې سره پرتله شوې، دولت د ښوونې او روزنې په برخه کې د ځانګړو نړیوالو معیارونو څخه کم لګښت کړی، چې دا کار تر یوه بریده د تمویلوونکو موسسو لخوا د ځانګړو شوو مرستو د څرنګوالي ښکارندوی دی.

په کال ۲۰۱۶ کې افغانستان او تمویلوونکو موسسو د بروکسل په کنفرانس د افغانستان په اړه جلسه وکړه چې په هغې کې تمویلوونکو موسسو د څلورو کلونو په ترڅ کې ۱۵،۲ میلیارده ډالرو مرستې ورکړې ژمنه له افغانستان سره وکړه. د دې کنفرانس د جوړوونکو موخه د دې مرستو په دې کچه او یا هم دې کچې ته نږدې ساتل وو، چې داسې ښکارېده چې دا کچه به وکولای شي ټاکل شوو موخو ته د رسېدو لامل شي.

د بروکسل په کنفرانس کې د ډېرو ژمنو سره سره، د افغانستان لپاره د مرستو لړۍ نزولي سیر درلود. غیر دولتي موسسي داسې راپور ورکوي چې دوی په مرستو کې د کموالي اغېز احساس کړی چې دې موضوع لا اوس په هغه نجونو چې د زده کړې له سیستم څخه بهر په درس بوختې دي، اغېز کړی. لکه څنګه چې د مرستو د کمېدو په حال کې له بودیجې څخه د دولت د لګښتونو کچه په ځانګړې ډول د امنیتي ځواکونو لپاره په ډېرېدو ده، کیدای شي چې د نجونو په ښوونه او روزنه باندې یې اغېزه په راتلونکي لا ډېره وي.

**وړاندیزونه**

**دولت ته (قانوني مکلفیتونه)**

- ښوونه او روزنه د هر انسان بنسټیز حق دی او دا حق د افغانستان د اساسي قانون له خوا هم تائید شوی دی. او د (CRC) همدا راز په بېلابېلو نړیوالو معاهدو کې چې افغانستان ورته الحاق شوی، لکه د ماشوم د حقوقو کنوانسیون اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقوقو کنوانسیون، هم دا حق په رسمیت پېژندل شوی دی. افغانستان د ښځو په وړاندې د هم تصویب کړی دی، چې له نارینوو سره د ښځو د مساوي (CEDAW) هر راز تاوتریخوالی د له منځه تلو کنوانسیون حقونو (د ښوونې او روزنې په ګډون) د ډاډ ترلاسه کول پکې شامل دي.
- دولت مکلف دی ترڅو ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي په وړاندې خنډونه له منځه یوسي.
- د اساسي قانون او نړیوالو بشري حقوقو د قواعدو پر بنسټ، هر شخص وړیا، جبري او لومړنۍ ښوونې او روزنې ته له تبعیض پرته د لاسرسي حق لري. همداراز، د افغانستان اساسي قانون صراحت لري چې منځنۍ ښوونې به عمومي توګه د ټولو اتباعو لپاره جبري دي او دولت باید د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره له ښوونې او روزنې څخه د ګټې اخیستنې حق د لاسرسي وړ وګرځوي. نو دولت باید په دې برخه کې لازمې کړنې ترسره کړي.
- د افغانستان دولت باید ښوونې او روزنې ته مساوي لاسرسی او همداراز له تبعیض پرته ښوونه او روزنه تضمین کړي. افغان دولت قانوني مکلفیت لري ترڅو د جنسیتي تبعیض د له منځه وړلو او همداراز د ټولنیزو او کلتوري لاملونو له امله د ناوړه کړو وړو په برخه کې لازمې کړنې ترسره کړي.
- همداراز، د بشري حقوقو مقررات دولت په دې ملزموي ترڅو د هغو کورنیو تبعیضونو په وړاندې د مبارزې په موخه چې ښځې او نجونې ورسره مخامخ دي، قانوني مقررات او ټولنیز تدابیرونه رامنځته کړي.
- د یوه ملي پلان له مخې د ماشومانو د ودونو د مخنیوي په موخه د فرهنګي چارو ترسره کول.
- وړاندیز کېږي چې: د افغانستان دولت باید د ښوونې او روزنې په اړه د خپلو مکلفیتونو د ترسره کولو په برخه کې څلور معیارونه په نظر کې ونیسي. شتون، د لاسرسي وړتیا، د منلو وړتیا او د تطبیق وړتیا. ښوونه او روزنه باید په ټول افغانستان کې، له پوره او با کیفیته زېربناوو او ښوونځیو سره تأمین او هر فرد په مساوي توګه ورته لاسرسی ولري.
- سربېره پردې، د ښوونې او روزنې ماهیت باید د کیفیت له پلوه د منلو وړ وي او لړ تر لړه له ښوونیزو معیارونو سره سمون ولري. ښوونه او روزنه باید د زده کوونکو له اړتیاوو سره بېلابېل ټولنیز او فرهنګي دریځونه لري، سمون ولري. نجونو ته باید لومړیتوب ورکړل شي.
- د سواد زده کړې د خدمتونو با کیفیته کول او په مساوي توګه یې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې یې د ښځو لپاره پراختیا.
- د ښوونې او روزنې وزارت له خوا د ټولنیزې ښوونې او روزنې پراختیا.
- موږ ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي په برخه کې د تلپاتې نړیوالې همکارۍ غوښتونکي یو.
- د جنسي ځورونې د مخنیوي لپاره د یوه میکانیزم رامنځته کول.
- د ښځینه ښوونکو د جذب لوړول.
- د ټولنیزې ښوونې او روزنې له پروګرامونو څخه د په پروسه کې مدني ټولنې شاملول.
- د معلولو او معیوبو نجونو د ښوونې او روزنې وضعیت ته پاملرنه.
- له دې چې په هېواد کې د نالوستو ښځینه وو سلنه ډېره لوړه ده، د سواد زده کړې هڅوونکو پروګرامونو

رامنځته کول.

- د پایدارې پراختیا موخو ته د رسېدو لپاره د تطبیقي پلان رامنځته کول، چې څلورمه موخه یې با کیفیته ښوونې او روزنې ته لاسرسی دی.
- د ښوونې او روزنې، په تېره بیا د سواد زده کړې اړوندې بودجې لوړول.
- په نصاب کې اغېزمن بدلون او د مضامینو بیا تنظیم.

**اخځلیکونه**


۱- د ښوونې د کلنې پرمختګ راپور (۱۳۹۱)، د ښوونې وزارت، کابل، افغانستان.

۲- د معارف ملي ستراتیژیک پلان مسوده (۱۳۹۳-۱۳۹۹)، (۱۳۹۱)، د ښوونې وزارت، کابل، افغانستان.

3. NRVA. National Risk and Vulnerability Assessment 2007/8: A profile of Afghanistan. Kabul: ICON INSTITUTE GmbH & Co.KG Consulting Group.

4. General Statistics Organization (CSO) and UNICEF. 2010-2011. Afghanistan Multiple Indicator Cluster Survey (2010-2011), Final Report, Kabul, Afghanistan: Central Statistics

# Research on Girls access to education

## Dec 2018

**Specifications:**

Report Name: Research on the Girls Access to Education

Researcher: Afghan Women Network (AWN)

Publisher: Afghan National Education Coalition

Funded by: Afghan National Education Coalition

Year: 2018

Table of Contents

Preface

Chapter One

Generals

Problem statement

Research Objectives

Research Limitations

Research Methods

A) Library Research

B) Field Work

Research Statistical Population

Population Sample

Information Analytical Method

Chapter Two

Girls' Current Education Condition

**1.** Basic Challenges for Girls' Education

- Security
- Geographic Status
- Economic Status
- Cultural Status

Shortage of Female Teachers

Chapter Three

Girls' Future Education Outlook

Third Educational Development Plan

Chapter Four

Research Findings based on scope studies

Profile of Respondents

Factors preventing girl's access to education

Acquiescence from the services provided by ministry of education for girl's access to education

International Cooperation Regarding Education in Afghanistan and how is this Cooperation about Girls

Is Social Education Present in your Province and Area, for Girls who are deprived from Going to School?

Is Satisfaction of the Access to Curriculum Books Present in Girls' Schools?

In your Province, Participation and Access of Girls to Education is Decreased or Increased than the year 1396?

Are you satisfied of literacy services for women, in your provinces?

Chapter Five

Summing and suggestions

## Girl's access to Education

### Preface

